مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۱/۰۲/۱۶

# خدایه په کومه گناه لامبو

## مورې د وینو رود کې



خـوب رانـه ورک دی، لـکـه کلي کې ارام چـې نـه شته
مـورې خـپـله کړي نـیـکـمـرغي زمـورې د قام چې نه شته

زمـورې خــوب، زمـــورې ارام کـوم چا غلا کړی نه دی
مـورې د غـنـي تــار کـې بند، ځکه پیغام مو نه شته

کــار رانــه پــاتـې دی، اوهــامــو کـې نښتي یو مورې
څـه جوړولای نـه شو، ځـکـه احـتـرام مـو نـه شتـه

چېرې چې بـد وي زمـورې نـوم پـه کې لـومړی لیکلی
د ښـو پـر لـیـکـه کې نـو ځـکـه ښـه نـام مو نـه شته

هـره ورځ ویـنـې مـو پـه بـرخـه د باروت بوی سره
غـږ شي، چـاودنه شي، چې گـورو یـو اندام مو نه شته

خـدایــه پــه کـومـه گـنـاه لامـبـو مـورې د ویـنـو رود کې
مورې غوارو جگ شو خو چې گورو پل او گام مو نه شته

۲۰۲۱/۰۱/۱۳



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ